Your Service
Your Say

ایا تاسو یو ماشوم یا ځوان یئ چې د HSE روغتیایي
خدمتونه کاروئ؟

# موږ غواړو له تاسو

# واورو



د فیډبک پاڼه



# مونږ غواړو له تاسو واورو

## HSE غواړي تاسو ته خوندي پاملرنه او درملنه وړاندې کړي.

مونږ غواړو تاسو له خدمتونو او زمونږ د ټولو کارکوونکو له چلند څخه خوشاله وئ. د دې لپاره مونږ غواړي زمونږ له خدمتونو ستاسو د تجربې په اړه واورو.

مونږ به هر هغه څه ته درناوی وکړو چې تاسو یېمونږ تهوایئ.

**نظر:**
مونږ څنګه وده کولی شو؟

**ستاینه:**
څه مونږ خوښ شول؟

**شکایت:**
خوشاله نه یئ؟
راته ووایئ!

## خپل نظر ووایئ

### هغه چاته چې ستاسو پاملرنه وړاندې کوییاکوم کارکوونکي ته ووایئ. دوی غواړیستاسونظرونه واوریچې څه وایئ اوهغه به وکړي چې ژر مرسته درسره وکړي.

که نه غواړئ دا کار وکړئ، دغه راز کولی شئ:

- له خپلو والدینو/سرپرست (سرپرستانو) څخه وغواړئ چې مونږ تهستاسو نظرووایئ.
- ایمیل وکړئ **yoursay@hse.ie**
- دلته ورشئ **www.hse.ie/yoursay** چې په انلاین توګه د تاسو خدمتونه ستاسو فیډبک (Your Service Your Sa Feedback) فورم ډک کړئ.
- له دغې پاڼې یا بروشر سره ضمیمه شوی فورم ډک کړئ.
  - له هغو لارښوونو په استفادې چې درته وړاندې شوې، ایمیل وکړئ یا فورم په HSE Your Service Your Say کې پوسټ کړئ.

  **یا**

  - دا ستاسو په محلي روغتیایي مرکز کېد فیډبکونو په باکس کېکېږدئ.
  - کوم کارکوونکي ته یې ورکړئ.
  - د پوسټ کولو لپاره د کومې پتې پوښتنه وکړئ. تاسوهمداراز کولی شئ که غواړئ همغې پتې ته یو لیک واستوئ.
- زمونږ د **HSE Your Service Your Say ټیم ته زنګ ووهئ** د سهار له **9am د ماښام تر 5pm، دوشنبه تر جمعې** (د بانک له رخصتیو پرته) او له یوه غړي یا کارکوونکي سره خبرې وکړئ چې مرسته درسره وکړي.
  - وړیا ټلیفون 1800 424 555
  - که له ایرلنډ بهر وئ، دغې شمېرې ته رنګ ووهئ 353+ 1 642 4555.
- کولی شئ **HSELive ټیم** ته زنګ ووهئ د سهار له **8am د شپې تر 8pm له دوشنبې تر جمعې** او د **سهار له 9am د ماښام تر 5pm د** شنبه په ورځو (د بانک له رخصتیو پرته).
  - وړیا ټلیفون 1800 700 700
  - که له ایرلنډ بهر وئ، دغې شمېرې ته رنګ ووهئ 353+ 1 240 8787

## د شکایت کولو لپاره ماتهاړین معلومات

له موږ سره په دې کې د مرستې لپاره چې د امکان تر حده ژر ستاسو شکایت ته رسیدګي وکړو، مهرباني وکړئ راته ووایئ:

- څه وشول.
- څه وخت او چېرته وشول.
- که ممکنه وي، د کوم کارکوونکي یا نورو ښکېلو کسانو نومونه.

## ستاسو حقونه

سن مو چې هر څومره وي، د روغتیایي خدمتونو اخیستلو په برخه کې تاسو حقونه لرئ. په دې کې دا شاملېږي:

- روغتیاپالنې ته د لاسرسي حق.
- د خپل نظر ویلو او ستاسو د نظر د اورېدل کېدو حق.
- دا حق چې د یوه خدمت یا ستاسو لخوا د تجربه کېدونکي پاملرنې یا درملنې د تجربه کولو په اړه د ناخوښۍ په صورت کې شکایت وکړئ.

## نور ګټور معلومات

- ستاسو معلومات محرم دي خو که موږ باور ولرو چې تاسو یا کوم بل ماشوم او ځوان ته خطر متوجه دی، موږ به یې شریک کړو.
- ستاسو والدین/سرپرست (سرپرستان) همدارز کولی شي زموږ د خدمتونو په اړه ستاسو په استازولۍ نظر ورکړي یا شکایت وکړي؛ په دې صورت کې به ستاسو نظرونه هم وغواړو.
- موږ به ستاسو ملاتړ وکړو او خبر به درکړو چې تاسو ته کوم خدمتونو د لاسرسي وړ دي.

## موږ به څه وکړو

### نظر یا ستاینه

که تاسو کوم نظر ورکړئ یا ستاینه وکړئ، موږ به اړیکه درسره ونیسو چې مننه درنه وکړو او دا به مناسب کس یا خدمت ته ورسوو.

### شکایت

که تاسو شکایت لرئ، موږ ته له خبر راکولو به مننه درنه وکړو او هڅه به وکړو چې دا ژر تر ژره حل کړو؛ معمولاً په 2 کاري ورځو کې.

که موږ ډېر کار ته اړتیا ولرو، تاسو ته به خبر درکړو او هڅه به وکړو چې په 30 کاري ورځو کې رسیدګي ورته وکړو. که اضافي وخت ته اړتیا وه، تاسو ته به په هرو 20 ورځو کې تازه معلومات درکړو.

موږ به له دې خوشاله شو چې تاسو ته ستاسو د نه پوهېدو په صورت کې هر څه تشریح کړو یا مو پوښتنې ځواب کړو.

د نورو معلوماتو لپاره دلته ورشئ

**www.hse.ie/yoursay**





# له موږ سره اړیکه ونیسئ

**خبري وکړئ** له یوه محلي کارکوونکي سره

**ایمیل وکړئ** yoursay@hse.ie

**ډک کړئ** له دغې پاڼې یا بروشر سره ضمیمه شوی فورم

**دلته ورشئ** **www.hse.ie/yoursay** چې په انلاین توګه
Your Service Your Say Feedback فورم ډک کړئ

**وړیا ټلیفون** HSE Your Service Your Say ته په 1800 424 555 شمېره
د سهار له 9am د ماښام تر 5pm، دوشنبه تر جمعې
(د بانک له رخصتیو پرته)

**وړیا ټلیفون** HSELive ته په 1800 700 700 شمېره
د سهار له 8am د ماښام تر 8pm، دوشنبه تر جمعې
او د شنبه په ورځو د سهار له 9am د ماښام تر 5pm بجو پورې
(د بانک له رخصتیو پرته)

د نورو ژبو لپاره سکن کړئ

دغه بروشر له دې سره په همکارۍ جوړ شوی
YOUTH ADVISORY COUNCIL

# د Your Service Your Say فیډبک فورم

Your Service
Your Say

که د موږ د خدمتونو د کومې برخې په اړه فیډبک ورکول غواړئ، مهرباني وکړئ دغهفورم ډک کړئ او موږ ته یې راواستوئ.

**په برېښنایي توګه ستاسو د فورم ډکول**

که غواړئ په فورم کې کوم بدلونونه ثبت کړئ، تاسو باید د Adobe Acrobat Reader وروستۍ نسخه وکاروئ

[په وړیا توګه Adobe Acrobat Reader ډونلوډ کړئ - adobe.com]

**د ایمیل له لارې فیډبک استول**

موږ سپارښتنه درته کوو چې PDF فورم د لیپاپ یا ډیسک ټاپ وسیلې په کارولو بشپړ کړئ.

که څیرک مبایل یا ټبلیټ کاروئ، باید د PDF ایډیټ کولواپلیکیشن په خپله وسیله کې‌انستال کړئ.

1. فورم خپلې وسیلې ته را ډونلوډ کړئ.
2. فومر په PDF ایډیټ کوونکي کې خلاص کړئ.
3. فورم بشپړ او ثبت کړئ. که مبایل کاروئ، وګورئ چې په فورم کې ټول جزیات سم ثبت شوي.
4. فورم دغې پتې ته ایمیل کړئ yoursay@hse.ie

**د پوسټ له لارې فیډبک استول**

1. فومرم پرېنټ او ډک کړئ (مهرباني وکړئ روښانه یا په لویو تورو یې ولیکئ).
2. دغې پتې ته یې واستوئ: HSE Your Service Your Say, Oak House, Limetree Avenue, Millenium Park, Naas, Co. Kildare, W91 KDC2

زه غواړم دا کار وکړم (مهرباني وکړئ یو په نښه کړئ)

☐ نظر ☐ ستاینه ☐ شکایت

د هغه خدمت نوم څه دی چې تاسو یې په اړه لیکئ؟

دا چېرته وشول؟

دا کله وشول؟

Your Service
Your Say

په خپلو خبرو، مهرباني وکړئ چې څه وشول؟

د Your Service Your Say فيډبک فورم

Your Service Your Say

| | |
|---|---|
| نوم: | |
| د پوسټ پته: | |
| ایمیل (که وي) | |
| ټلیفون نمبر: | |
| مبایل نمبر: | |
| لاسلیک: | |
| د والدینو/سرپرستنوم: | |
| د والدینو/سرپرستلاسلیک: | |

**یوازې د HSE د کارکوونکو د کارونې لپاره**

| | |
|---|---|
| د ترلاسه کېدو نېټه: | / / |
| د نظر / ستاینې / شکایت نمبر: | |
| ځای: | |
| د شکایتونو مامور: | |